تر هغه پورې صبر وکړه لکه څومره يې چې حيض کې کوې، بيا غسل وکړه

له أم المؤمنين عائشه رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: ام حبيبة بنت جحش چې د عبد الرحمن بن عوف ميرمن وه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته له وينې شکايت وکړ، نو هغه ورته وفرمايل: «تر هغه پورې صبر وکړه لکه څومره يې چې حيض کې کوې، بيا غسل وکړه». نو هغې به د هر لمانځه لپاره غسل کاوه.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

د صحابه وو يوې ميرمنې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د وينې د پرلپسې له راتلو څخه شکايت وکړ، نو امر يې ورته وکړ چې په دومره اندازه لمونځ پرېږدي لکه څومره به يې چې د حيض لپاره پرېښوده، مخکې لدې چې دا بيړنی حالت پرې راشي، بيا به غسل کوي او لمونځ به کوي، نو هغې به په خپله خوښه د هر لمانځه لپاره اودس کاوه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10015